## دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- دسوداګرۍ اوصنایعو وزارت دنامه تعدیل
- دمالي چارواوعامه لګښتونوداداري دقانون ددوه ویشتمې مادې د(۳)فقرې تعدیل
- دمالیاتو دچارواداري دقانون په ځینو مادوکې تعدیل او ایزاد
- دننګرهار دوادي دکرنیز شرکت داساسنامې دځینو مادو تعدیل
- دمخابراتي خدمتونو دتنظیم دقانون دځینو مادوتعدیل او ایزاد

- تعدیل نام وزارت تجارت وصنایع
- تعدیل فقرهٔ(۳) مادهٔ بیست دوم قانون ادارهٔ امورمالی ومصارف عامه
- تعدیل وایزاد دربرخی از موادقانون ادارهٔ امورمالیات
- تعدیل برخی از مواداساسنامه شرکت زراعتی وادی ننګرهار
- تعدیل وایزاد برخی از مواد قانون تنظیم خدمات مخابراتی

دخپریدو نېټه: د ۱۳۹۷ هـ.ش کال دتلې دمیاشتې(۱۰)
پرله پسې نمبر:(۱۳۱۰)

تاریخ نشر:(۱۰)میزان سال ۱۳۹۷ هـ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۱۰)

د امتیــاز خاوند: د عدلیـــې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمـــم: محمد جان ۰۷۴۷٦۲۷۹۳۰

وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۱۳) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۴٦) صفحه

مطبعه: بهیــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)،کابل

**په صنعت او سوداګرۍ وزارت د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نامه د تعدیل د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان**

ګڼه: (۲۷۷)

نېټه: ۱۳۹۷/۵/۲

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپېتمې مادې د ۱۶ جزء او د نهه اویایمې مادې د حکمونو له مخې، په صنعت او سوداګرۍ وزارت د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نامه تعدیل چې د ولسي جرګې د ۲۹ /۱۳۹۷/۲ نېټې (۳۰۴)ګڼې مصوبې او د مشرانو جرګې د ۱۳۹۷/۴/۱۰ نېټې (۳۰۸) ګڼې مصوبې پر بنسټ د (۲) مادو په دننه کې فیصله شوې ده، توشېح کوم.

**فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع به وزارت صنعت و تجارت**

شماره: (۲۷۷)

تاریخ: ۱۳۹۷/۵/۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم قانون اساسی افغانستان، تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع به وزارت صنعت و تجارت را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۰۴) مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۲۹ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۳۰۸) مؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۰ مشرانو جرگه به داخل (۲) ماده فیصله گردیده است، توشیح می‌دارم.

**دوه یمه ماده:**

**دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري د مجلسینومصوبو او د نوموړي تعدیل له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مادۀ دوم:**

**این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن تعدیل متذکره، در جریدۀ رسمی نشر گردد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرګه

په صنعت او سوداګرۍ وزارت

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نامه

د تعدیل د طرحې

مصوبه

ګڼه: (۳۰۴)

نېټه: ۱۳۹۷/۲/۲۹

ولسي جرګــــې د افغانستان د اساسي قانون دنوي یمې مادې د حکم له مخې، د شنبې ورځې د ۱۳۹۷/۲/۲۹نېټې په خپلې عمومي غونډه کې په صنعت او سوداګرۍ وزارت د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نامه د تعدیل په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس د ۱۳۹٦/۱۲/۱۲نېټــې (۲٦۱) ګڼه تقــنیني فرمان د (۲) مادو په دننه کې د مجلس د حاضرو غړیو د رأیو په اکثریت تصویب کړ.

الحاج عبدالرووف ابراهیمي

د ولسي جرګې رئیس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

طــرح تعــدیل نــام وزارت

تجــارت و صــنایع به وزارت

صنعــت و تجــارت

شماره: (۳۰۴)

تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۲۹

ولسی جرگه به تأسی از حکم مــادۀ نودم قانون اســاسی افغانســتان، در جلسۀ عمــومی روز شــنبه مــؤرخ ۱۳۹۷/۲/۲۹خویــــش فــــرمان تقنینی شــــماره (۲٦۱) مــــؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲رئیس جمهــــوری اســلامی افغانستان در رابطه به تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع به وزارت صنعت و تجارت را به داخل (۲) ماده به اکثریت آرای اعضــای حاضــر در مجلس تصویب نمود.

الحاج عبدالرووف ابراهیمی

رئیس ولسی جرگه

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرګه**

**د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د نامه د تعديل په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس د ۱۳۹۶/۱۲/۱۲ نېټې (۲٦۱) ګڼه تقنيني فرمان**

**مصوبه**

ګڼه: (۳۰۸)

نېټه: ۱۳۹۷/۴/۱۰

د افغانستان د اساسي قانون د نوي يمې مادې د حکم له مخې، مشرانوجرګې د۱۳۹۷/۴/۱۰نېټې د يکشنبې ورځې په عمومي غونډه کې، د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د نامه د تعديل په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس د ۱۳۹۶/۱۲/۱۲نېټې (۲٦۱) ګڼه تقنيني فرمان د رأيو په اکثريت تصويب کړ.

فضل هادي مسلميار

د مشرانو جرګې رئيس

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**مشرانو جرگه**

**مصوبه**

**فرمان تقنینی شماره (۲٦۱) مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع**

شماره: (۳۰۸)

تاریخ: ۱۳۹۷/۴/۱۰

به تأسی از حکم مادۀ نودم قانون اساسی افغانستان، مشرانوجرگه در جلسۀ عمومی روز یکشنبه مؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۰، فرمان تقنینی شماره (۲٦۱) مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع را به اکثریت آراء تصویب نمود.

فضل هادی مسلمیار

رئیس مشرانو جرگه

## د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نامه تعدیل

**لومړۍ ماده:**

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت نوم دې د هغه وزارت په عنوان او په نافذو تقنیني سندونو کې د صنعت او سوداګرۍ په وزارت، تعدیل شي.

**دوه یمه ماده:**

دغه تعدیل د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

## تعدیل نام وزارت تجارت و صنایع

**مادۀ اول:**

نام وزارت تجارت و صنایع در عنوان آن وزارت و در اسناد تقنینی نافذ به وزارت صنعت و تجارت، تعدیل گردد.

**مادۀ دوم:**

این تعدیل از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۲۲) مادې د (۳) فقرې د تعديل د توشيح په اړه د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

ګڼه: (۲۸۱)
نېټه: ۸/ ۵/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د اساسي قانون د (۶۴) مادې د۱٦ جزء د حکم له مخې، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د(۲۲) مادې د (۳) فقرې تعديل چې دملي شوري د ولسي جرګې د ۱۳۹۷/۲/۲۹ نېټې د (۳۰۳) ګڼه مصوبې او د مشرانو جرګې د ۱۳۹۷/۴/۱۰ نېټې د (۳۰۹) ګڼه مصوبې پربنسټ د (۲) مادو په ترڅ کې تصويب شوی دی، توشيح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان پیرامون توشیح تعدیل فقرۀ (۳) مادۀ (۲۲) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه**

شماره: (۲۸۱)
تاریخ: ۱۳۹۷/۵/۸

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم جزء ۱٦ مادۀ (٦۴) قانون اساسی، تعدیل فقرۀ (۳) مادۀ (۲۲) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۰۳) مؤرخ ۱۳۹۷/۲/۲۹ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۳۰۹) مؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۰ مشرانو جرگه شورای ملی طی (۲) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح

او د ملي شوري د دواړو مجلسونو له مصوبو او د هغو د تعديل له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

نافذ و همراه با مصوبات مجلسين شورای ملی و متن تعديل آن، در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

ولسي جرګه

د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د (۲۲) مادې د (۳) فقرې د تعديل د طرحې

مصوبه

ګڼه: (۳۰۳)

نېټه: ۱۳۹۷/۲/۲۹

ولسي جرګې د اساسي قانون د نوي‌يمې مادې د (۱) فقرې د درج شوي حکم له مخې د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د (۲۲) مادې د (۳) فقرې د تعديل طرحــه (د حکومــت طرحه) د ۲۹/ ۲/ ۱۳۹۷ نېټې د شنبې ورځې په خپله عمومي غونډه کــې د مجلس د حاضرو غړيــو د رأيــو پــه اکثريت تصويب کړه.

الحاج عبدالرووف ابراهيمي

د ولسي جرګې رئيس

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

ولسی جرگه

مصوبه

طرح تعدیل فقرۀ (۳) مادۀ (۲۲) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه

شماره: (۳۰۳)

تاریخ: ۱۳۹۷/۲/۲۹

ولسی جرگــه بــه تأســی از حکــم فقرۀ (۱) مادۀ نودم قانون اساسی، در جلسۀ عمــومی روز شــنبه مــؤرخ ۱۳۹۷/۲/۲۹ خویش طرح تعــدیل فقــرۀ (۳) مــادۀ (۲۲) قــانون اداره امور مالی و مصارف عامه (طرح حکومت) را به اکثریت آرای اعضای حاضـــر در مجلـــس تصـــویب نمود.

الحاج عبدالرووف ابراهیمی

رئیس ولسی جرگه

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرگه**

**د مالي او عامه لگښتونو د چارو د اداري د قانون د (۲۲) مادې د (۳) فقرې د تعديل په هكله د حكومت د طرحې**

**مصوبه**

گڼه: (۳۰۹)

نېټه: ۱۰/ ۴/ ۱۳۹۷

د افغانستان د اساسي قانون د نويېيمې مادې د حكم له مخې، مشرانو جرگې د ۱۳۹۷/۴/۱۰ نېټې د يكشنبې ورځې په عمومي غونډه كې، د مالي او عامه لگښتونو د چارو د اداري د قانون د (۲۲) مادې د (۳) فقرې د تعديل په هكله د حكومت طرحه د رأيو په اكثريت تصويب كړ.

**فضل هادي مسلميار**

**د مشرانو جرگې رئيس**

**دولت جمهورى اسلامى افغانستان**

**شوراى ملى**

**مشرانو جرگه**

**مصوبه**

**طرح حكومت در مورد تعديل فقرهٔ (۳) مادهٔ (۲۲) قانون ادارهٔ امور مالى و مصارف عامه**

شماره: (۳۰۹)

تاريخ: ۱۳۹۷/۴/۱۰

به تأسى از حكم مادهٔ نودم قانون اساسى افغانستان، مشرانو جرگه در جلسهٔ عمومى روز يكشنبه مؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۰، طرح حكومت در مورد تعديل فقرهٔ (۳) مادهٔ (۲۲) قانون اداره امور مالى و مصارف عامه را به اكثريت آراء تصويب نمود.

**فضل هادى مسلميار**

**رئيس مشرانو جرگه**

## د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د دوه ويشتمې مادې د (۳) فقرې تعديل

**۱- لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۴ کال په (۸۵۶) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د دوه ويشتمې مادې (۳) فقره دې په لاندې متن سره تعديل شي:

**دوه ويشتمه ماده:**

(۳) دماليې وزارت کولی شي، دشخص د هويت له تثبيت وروسته له هغه ټاکلي جدول سره سم چې ددولتي ادارو لخوا برابر او ليږل کېږي دملکي او نظامي کارکوونکو معاش اجراء يا د هغه بانکي حساب ته او يا له بلې ډاډمنې وسيلې څخه په ګټې اخيستلو سره هغه ته ولېږدوي.

**۲- دوه يمه ماده:**

دغه تعديل د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي.

## تعديل فقرهٔ (۳) مادهٔ بیست ودوم قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه

**۱- مادهٔ اول:**

فقرهٔ (۳) مادهٔ بیست دوم قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸۵۶) سال ۱۳۸۴ به متن ذیل تعدیل گردد:

**مادهٔ بیست ودوم:**

(۳) وزارت مالیه می تواند، معاش کارکنان ملکی و نظامی را مطابق جدول معینه که از طرف ادارات دولتی تهیه و ارسال می گردد، بعد از تثبیت هویت شخص اجراء یا به حساب بانکی وی و یا با استفاده از وسیلهٔ مطمین دیگر به او انتقال دهد.

**۲- مادهٔ دوم:**

این تعدیل از تاریخ توشیح، نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

## د مالیاتو د چارو د اداري د قانون په ځینو مادو کې د تعدیل او ایزاد د توشېح په اړه د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۲۸۲)
نېټه: ۱۳۹۷/۵/۸

لومړۍ ماده:

د اساسي قانون د (۶۴) مادې د ۱۶ جزء د حکم له مخې، د مالیاتو د چارو د اداري د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد چې د ملي شوري د ولسي جرګې د ۲/ ۳/ ۱۳۹۷ نېټې د (۳۰۷) ګڼه مصوبې او د مشرانو جرګې د ۱۹/ ۴/ ۱۳۹۷ نېټې د (۳۱۳) ګڼه مصوبې پربنسټ د (۳) مادو په ترڅ کې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري د دواړو مجلسونو له مصوبو او د یادو موادو د تعدیل او

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان پیرامون توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون ادارۀ امور مالیات

شماره: (۲۸۲)
تاریخ: ۱۳۹۷/۵/۸

مادۀ اول:

به تأسی از حکم جزء ۱۶ مادۀ (۶۴) قانون اساسی، تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون ادارۀ امور مالیات را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۰۷) مؤرخ ۱۳۹۷/۳/۲ ولسی جرگه و مصوبۀ شماره (۳۱۳) مؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۹ مشرانو جرگه شورای ملی طی (۳) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

مادۀ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی و متن تعدیل و

ایزاد له متن سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

ایزاد مواد متذکره، در جریدۀ رســـمی نشر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**ولسي جرګه**

**د مالياتو د چارو د اداري د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد د طرحې**

**مصوبه**

ګڼه: (۳۰۷)

نېټه: ۱۳۹۷/۳/۲

ولسي جرګې د اساسي قانون د نوي يمې مادې د (۱) بند د درج شوي حکم له مخې دمالياتو دچارو د اداري د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد طرحه (د حکومت طرحه) له يو لړ تعديلونو سره د ۱۳۹۷/۳/۲ نېټې د چهارشنبې ورځې خپله عمومي غونډه کې د مجلس د حاضرو غړيو د رأيو په اکثريت تصويب کړه.

**الحاج عبدالرووف ابراهيمي**

**د ولسي جرګې رئيس**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**ولسی جرگه**

**مصوبه**

**طرح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون ادارهٔ امور ماليات**

شماره: (۳۰۷)

تاريخ: ۱۳۹۷/۳/۲

ولسی جرگه به تأسی از حکم مندرج بند (۱) مادهٔ نودم قانون اساسی، در جلسهٔ عمومی روزچهارشنبه مؤرخ ۱۳۹۷/۳/۲ خويش طرح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون ادارهٔ امور ماليات (طرح حکومت) را با يک سلسله تعديلات به اکثريت آرای اعضای حاضر در مجلس تصويب نمود.

**الحاج عبدالرووف ابراهيمی**

**رئيس ولسی جرگه**

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**ملي شوري**
**مشرانو جرگه**
**د مالیاتو د چارو د اداري د قانون**
**په ځینو مادو کې د تعدیل او ایزاد**
**د طرحې په هکله**
**مصوبه**

**ګڼه: (۳۱۳)**
**نېټه: ۱۳۹۷/۴/۱۹**

د افغانستان د اساسي قانون د نوي یمې مادې د حکم له مخې، مشرانو جرګې د ۱۳۹۷/۴/۱۹ نېټې د سه شنبې ورځې په عمومي غونډه کې، د مالیاتو د چارو د اداري د قانون په ځینو مادو کــې د تعدیل او ایزاد طرحه له یو لړ تعدیلاتو سره د رأیو په اکثریت تصویب کړه.

**محمد علم ایزدیار**
**د مشرانو جرګې لومړی نایب**

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**
**شورای ملی**
**مشرانو جرگه**
**مصوبه**
**در مورد طرح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون ادارۀ امور مالیات**

**شماره: (۳۱۳)**
**تاریخ: ۱۳۹۷/۴/۱۹**

به تأسی از حکم مادۀ نــودم قــانون اساسی افغانستان، مشرانو جرگــه در جلسۀ عمومی روز سه شــنبه مــؤرخ ۱۳۹۷/۴/۱۹، طـــرح تعـــدیل و ایزاد در برخی از مـــواد قــانون ادارۀ امور مالیات را با یک سلسله تعدیلات به اکثریت آراء تصویب نمود.

**محمد علم ایزدیار**
**نایب اول مشرانو جرگه**

## دمالياتو دچارو د اداري د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد

لومړۍ ماده:

د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۹۸) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د مالياتو د چارو د اداري د قانون د دريمې مادې ۷ جزء، د څوارلسمې مادې (۲) فقره، د شلمې مادې (۱) فقره، د درويشتمې مادې (۱) فقره، د شپږ ويشتمې مادې (۱) فقره، د څلور دېرشمې مادې (۱) فقره، پنځه دېرشمه ماده، نهه دېرشمه ماده، د څلوېښتمې مادې (۳) فقره، د يو څلوېښتمې مادې (۱) فقره، يوپنځوسمه ماده، د پنځه پنځوسمې مادې (۳) فقره او د څلور شپېتمې مادې (۲) فقره دې په لاندې ډول تعديل شي:

۱- دريمه ماده:

۷- مالياتي تصميم: هغه مالياتي سنجش او تصميمونه دي چې ددې قانون د اوومې مادې، د يوولسمې مادې د(۳) فقرې، د پنځلسمې مادې د (۳ او۶)

## تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون ادارهٔ امور ماليات

مادهٔ اول:

جزء ۷ مادهٔ سوم، فقرهٔ (۲) مادهٔ چهاردهم، فقرهٔ (۱) مادهٔ بيستم، فقرهٔ (۱) مادهٔ بيست و سوم، فقرهٔ (۱) مادهٔ بيست و ششم، فقرهٔ (۱) مادهٔ سی و چهارم، مادهٔ سی و پنجم، مادهٔ سی و نهم، فقرهٔ (۳) مادهٔ چهلم، فقرهٔ ( ۱) مادهٔ چهل و يكم، مادهٔ پنجاه و يكم، فقرهٔ (۳) مادهٔ پنجاه وپنجم و فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و چهارم قانون ادارهٔ امور ماليات منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۱۹۸) سال ۱۳۹۴ ذيلاً تعديل گردد:

۱- مادهٔ سوم:

۷- تصميم مالياتی: سنجش مالياتی وتصاميم است كه مطابق احكام مادهٔ هفتم، فقرهٔ (۳) مادهٔ يازدهم، فقره های(۳و ۶) مادهٔ پانزدهم،

فقرو، د شپاړسمې مادې د (۱) فقرې، د اووه لسمې مـــادې د (۳) فقـــرې، د نولسمې مادې د (۲ او ۳) فقـــرو، د شلمې، يوويشتمې، دوه ويشـــتمې، درويشتمې، اته ويشتمې، نهه ويشتمې، نهه پنځوسمې مادو، د شپېتمې مادې او يو شپېتمې مـــادې د (۲) فقـــرې لـــه حکمونو او پر زيات شـــوي ارزښـــت د ماليې په قانون کې د درج شوي ثبت د غوښتنې د رد له تصميم ســـره ســـم د ماليې وزارت له لوري نيول کېږي.

۲- څوارلسمه ماده:

(۲) که چېرې مالياتي شـــخړه راولاړه شي، د ماليې وزارت تر (۳۰ ٪) پورې تر شخړې لاندې ماليه لاسته راوړي.

۳- شلمه ماده:

(۱) که چېرې ماليه ورکوونکى، پـــه قانون کې په درج شوي ميعاد کـــې د خپل ذمت ماليه ورنکړي يا دهغـــې د ورکړې لپـــاره د ماليـــاتو د ادارې د قناعت وړ چمتوالى ونه ښيي، د مالياتو اداره له احوالو سره سم د هغه د مالي

فقـــرۀ (۱) مـــادۀ شـــانزدهم، فقـــرۀ (۳) مادۀ هفدهم، فقره هـــاى (۲و ۳) مـــادۀ نـــزدهم، مـــواد بيســـتم، بيســـت و يکـــم، بيســـت و دوم، بيســـت وســـوم، بيســـت وهشـــتم، بيست و نهم، پنجاه و نهـــم، مـــادۀ شصتم و فقرۀ (۲) مادۀ شصت و يکم اين قانون و تصميم رد درخواست ثبت مندرج قانون ماليه بر ارزش افزوده از طـــرف وزارت ماليـــه اتخـــاذ مى‌گردد.

۲- مادۀ چهاردهم:

(۲) هرگاه منازعۀ مالياتى بروز نمايد، وزارت ماليه الى (۳۰ ٪) ماليه تحت منازعه را تحصيل مى‌نمايد.

۳- مادۀ بيستم:

(۱) هرگاه ماليه دهنده، ماليه ذمـــت خود را در ميعاد مندرج قانون تأديـــه ننمايد يا براى تأديه آن آمـــادگى کـــه مورد قناعت ادارۀ ماليات قرار گيرد، نشان ندهد، ادارۀ ماليـــات حســـب احوال کل يا قســـمتى از حســـابات

حسابونو او د اجناسو د وارداتو او صادراتو ټول یا یوه برخه تعلیق او په لیکلي ډول هغه ته خبر ورکوي.

۴- درویشتمه ماده:

(۱) د مالیاتو اداره کولی شي، له لاندې حالتونو څخه په یوه کې په لیکلي ډول له افغانستان څخه د مالیه ورکوونکي د ممنوع الخروجۍ خبرتیا صادره کړي او د (۵) کاري ورځو په ترڅ کې مکلف دی د مالیه ورکوونکي د ممنوع الخروجۍ وړاندیز واکمنې محکمې ته وړاندې کړي:

۱- په هغه صورت کې چې خپل هغه مالیاتي ذمت چې له پنځه سوه زرو (۵۰۰۰۰۰) افغانیو یا له هغه څخه زیات وي د ټاکلي نېټې له تېرېدلو څخه تر دېرشو ورځو پورې ورنکړي.

۲- ددې په اړه چې شخص د مالیاتي ذمت له اداکولو څخه دمخه افغانستان په دایمي ډول پرېږدي د ډاډ د ترلاسه کولو یا د سندونو او مدارکو د شتون په صورت کې.

مالی و واردات یا صادرات اجناس وی را تعلیق وطور کتبی به او اطلاع می‌دهد.

۴- مادۀ بیست و سوم:

(۱) ادارۀ مالیات می تواند، در یکی از حالات ذیل اطلاعیۀ کتبی ممنوع الخروج مالیه دهنده را از افغانستان صادر نماید و در خلال (۵) روز کاری مکلف است پیشنهاد ممنوع الخروجی مالیه دهنده را به محکمۀ ذیصلاح ارایه نماید:

۱- در صورتی که ذمت مالیاتی خود را که بالغ بر(۵۰۰۰۰۰) پنجصد هزار افغانی یا بیشتر از آن باشد، الی سی روز پس از سپری شدن تاریخ معینه تأدیه ننماید.

۲- در صورت حصول اطمینان و موجودیت اسناد و مدارک مبنی بر اینکه شخص قبل از ادای ذمت مالیاتی، افغانستان را طوری دایمی ترک می نماید.

۵- شپږویشتمه ماده:

(۱) مالیاتي اداره کولی شي، د لیکلي خبرتیا په ذریعه په خبرتیاکې پــه درج شوي میعاد کې شــخص د ســندونو، دفترونو، معلوماتو یا هغه کمپیــوټري معلومات چې ورسره دي یا د هغه یا بل شخص د مالیاتي چارو د ارزونــې پــه منظور د خبرتیا په مشخص شوي وخت او ځای کې په حضور مکلف کــړي. په خبرتیا کې ټاکل شوی وخت له شپږو کاري ورځو څخه لږ نه شي کېدای.

۶- څلور دېرشمه ماده:

(۱) که چېرې شخص خپــل مالیــاتي ذمت د مالیاتي قوانینو د حکمونو یــا ددې قانون د شپاړسمې مادې د خبرتیا مطابق په ټاکلي موده کې ور نه کړي، د اصلي مالیې پر ورکړې سربېره، د هرې ورځې ځنډ په وړاندې د اضافي مالیې د (۰,۰۵) سلنې نه ورکړل شوې مالیې پر ورکړې مکلف دی.

په دې ماده کې درج شوې اضافي مالیه د نه ورکړل شوې مالیې له سل ســلنې

۵- مادهٔ بیست وششم:

(۱) ادارهٔ مالیاتی می توانــد، ذریعــهٔ اطلاعیهٔ کتبی شخص را به ارایهٔ اسناد، دفاتر، معلومات یا معلومات کمپیوتری کـــه دراختیـــارش قـــرار دارد، در میعاد مندرج اطلاعیه یا حضور در زمان و محل مشخص شده اطلاعیه به منظـــور ارزیـــابی امـــور مالیـــاتی وی یا شخص دیگری، مکلف نمایـــد. زمان تعیین شده در اطلاعیه کمتــر از شش روز کاری بوده نمی‌تواند.

۶- مادهٔ سی و چهارم:

(۱) هرگاه شخص، ذمــت مالیــاتی خــود را مطــابق احکــام قــوانین مالیاتی یا اطلاعیهٔ مادهٔ شانزدهم ایــن قانون در میعاد معینه تأدیــه ننمایــد، علاوه بر پرداخت مالیهٔ اصلی مکلــف به پرداخت مالیهٔ اضافی (۰,۰۵) فیصد مالیه تأدیه ناشده در برابــر هــرروز تأخیر می باشد.

مالیه اضافی مندرج این ماده بیشتر از صد فیصد اصل مالیه تأدیه ناشده بوده

زياتېداى نشي.

۷- پنځه دېرشمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له مؤجه دليلونو پرته مالياتي اظهار ليک يا نور هغه سندونه چې کول يې په مالياتي قوانينو کې وړاندوينه شوي دي د مالياتو ادارې ته وړاندې نه کړي، حقيقي شخص د هرې ورځې د تأخير پر وړاندې د (۱۵) پنځلس افغانيو پر ورکړې او حکمي شخص د (۵۰) پنځوسو افغانيو اضافي ماليې پر ورکړې مکلف دى.

۸- نهه دېرشمه ماده:

هغه شخص چې له مؤجه دليلونو پرته، ددې قانون د شپږويشتمې مادې حکم په پام کې ونه نيسي، د هرې ورځې ځنډ پروړاندې حقيقي شخص د (۵۰) پنځوس افغانيو پر ورکړې او حکمي شخص د (۱۰۰) يو سل افغانيو اضافي ماليې پرورکړې مکلف دى.

۹- څلوېښتمه ماده:

(۳) ددې مادې د (۱) فقرې اضافي ماليه، ددې قانون په څلوردېرشمه ماده

نمی تواند.

۷- مادۀ سی وپنجم:

(۱) شخصی که بدون دلایل مؤجه اظهارنامۀ مالیاتی یا سایر اسنادی که ارایه آن در قوانین مالیاتی پیشبینی گردیده به ادارۀ مالیات ارایه ننماید، شخص حقیقی به پرداخت مبلغ (۱۵) پانزده افغانی و شخص حکمی به پرداخت مبلغ (۵۰) پنجاه افغانی مالیه اضافی در برابر هر روز تأخیر مکلف می باشد.

۸- مادۀ سی ونهم:

شخصی که بدون دلایل مؤجه، حکم مادۀ بیست و ششم این قانون را رعایت ننماید، شخص حقیقی به پرداخت مبلغ (۵۰) پنجاه افغانی و شخص حکمی به پرداخت مبلغ (۱۰۰) یکصد افغانی مالیۀ اضافی در برابر هر روز تأخیر مکلف می باشد.

۹- مادۀ چهلم:

(۳) مالیۀ اضافی فقرۀ (۱) این ماده، مانع تطبیق مالیۀ اضافی مندرج

کې د درج شوي اضافي ماليې د تطبيق خنډ نه ګرځي.

۱۰- یوڅلوېښتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې عمداً ماليه کتمان کړي، په لومړي ځل پر اصـل مـاليې سربېره د کتمان شوې ماليې د (۱۰۰) سلنې اضافي ماليې پر ورکړې مکلـف دی.

له وظيفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخيستنه او مالياتي سرغړونې

۱۱- یوپنځوسمه ماده:

(۱) کـه چېـرې د ماليـاتي ادارې کارکوونکی له خپل وظيفوي موقـف څخه ناوړه ګټه پورته کړي، د قانون له حکمونو سره سم تر عـدلي تعقيـب لاندې نيول کېږي.

(۲) لاندې اعمال مالياتي سـرغړونې دي، مرتکب يې د قانون له حکمونـو سره سم مجازات کېږي:

۱- هغه شخص چې له مؤجه دليلونـو پرته خپل مالياتي اظهار ليک د مالياتي قوانينو له حکمونو سره سم يا د مالياتو

مادۀ سـی و چهـارم ایـن قـانون نمی گردد.

۱۰- مادۀ چهل ویکم:

(۱) شخصی که مالیه را عمداً کتمان نماید، بار اول علاوه بر اصل مالیـه، مکلف به پرداخـت مالیـه اضـافی (۱۰۰) فیصد مالیـه کتمـان شـده می باشد.

سوء استفاده از موقف وظیفوی و تخلفات مالیاتی

۱۱- مادۀ پنجاه ویکم:

(۱) هرگاه کارکن ادارۀ مالیـاتی از موقـف وظیفـوی خـود سـوء اسـتفاده نمایـد، مطـابق احکـام قانون مـورد تعقیـب عـدلی قـرار می گیرد.

(۲) اعمال ذیـل تخلفـات مالیـاتی بوده، مرتکب آن مطابق احکام قانون مجازات می گردد:

۱- شخص که بدون دلایـل مؤجـه اظهارنامۀ مالیاتی خـویش را مطـابق احکام قوانین مالیاتی یا الی انقضـای

د اداري د تمدید شوي مودې تر پـــای ته رسېدو پورې وړاندې نه کړي.

۲- هغه شخص چې له مؤجه دلیلونـــو پرته موضوعي مالیه د مالیاتي قوانینو له حکمونو سره سم وضع یا ورنه کړي.

۳- هغه تصفیه کـــوونکی چـــې ددې قانون د نولسمې مادې حکم رعایـــت نکړي.

۴- هغه شخص چـــې ددې قـــانون د دوه ویشتمې مادې په (۳) فقره کـــې درج شوې خبرتیا رعایت نه کړي.

۵- هغه شخص چې د مالیاتي قوانینو له حکمونو سره سم عمداً خپل سندونه او دفترونه ترتیب او ونه ساتي.

۶- هغه شخص چـــې ددې قـــانون د اووه ویشتمې مادې د (۶) فقرې لـــه حکم سره سم د مالیاتي کـــارکوونکو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې نکړي یا همکاري ونکړي.

۷- هغه شخص چې په مالیاتي اظهـــار لیک یا هر هغه سند کې چې په مالیاتي قوانینو کې یې وړاند وینه شوې ده یا په دې منظور ورنه ګته اخیستل کېـږي

مدت تمدید شدهٔ ادارهٔ مالیات، ارایـــه ننماید.

۲- شخص که بدون دلایل مؤجـــه، مالیه موضوعی را مطابق احکام قوانین مالیاتی وضع یا تأدیه ننماید.

۳- تصفیه کنندهٔ که حکم مادهٔ نزدهم ایـــــن قـــــانون را رعایـــــت ننماید.

۴- شخص که اطلاعیهٔ مندرج فقـــرهٔ (۳) مادهٔ بیست و دوم این قـــانون را رعایت ننماید.

۵- شخص که عمداً اسناد و دفـــاتر خود را مطابق احکام قوانین مالیـــاتی ترتیب و حفظ ننماید.

۶- شخصـــی کـــه مطـــابق حکـــم فقرهٔ (۶) مادهٔ بیســـت وهفـــتم ایـــن قانون تسهیلات لازم را به کارکنـــان مالیاتی فراهم نکنـــد یـــا همکـــاری ننماید.

۷- شخص که عمداً نمبر تشخیصـــیه غلـــط را در اظهارنامـــهٔ مالیـــاتی ویا هر سند که در قـــوانین مالیـــاتی پیشبینی گردیـــده اســـت و یـــا بـــه

عمـــداً ناســـم تشخیصـــیه نمبــر وکاروي.

۸- هغه شخص چې ددې قــانون پــه شپږویشتمه ماده کې درج شوې خبرتیا عمداً له مؤجهو دلیلونو پرته رعایــت نکړي.

۹- هغه شخص چې عمداً ناســم یــا گمراه کوونکي اظهارات وړاندې او یا د هغو ځانگړې برخه حذف کړي.

۱۰- هغه شخص چــې ددې قــانون د څلور پنځوسمې مادې حکم نقــض کړي.

۱۲- پنځه پنځوسمه ماده:

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي بورډ غړي د مــالیې وزیــر پــه وړاندیز او د افغانســتان د اســلامي جمهوریت د رئـیس پــه منظــورۍ ټاکل کیږي.

۱۳- څلور شپېتمه ماده:

(۲) د افغانستان د اسلامي جمهــوري دولت او بهرنیو دولتونو یا بین المللي مؤسسو ترمنځ تړل شوي قراردادونه او

این منظور استفاده می شــود، بکــار ببرد.

۸- شـــخص کــه عمـــداً بـــدون دلایل مؤجه اطلاعیهٔ منــدرج مــادهٔ بیست وششم این قــانون را رعایــت ننماید.

۹- شخص که عمداً اظهارات نادرست یا گمراه کننده را ارایــه یــا بخــش مشخص آن را حذف نماید.

۱۰- شـــخص کـــه حکـــم مـــادهٔ پنجاه و چهارم این قــانون را نقــض نماید.

۱۲- مادهٔ پنجاه وپنجم:

(۳) اعضـــای بـــورد منـــدرج فقرهٔ (۱) ایــن مــاده بــه پیشــنهاد وزیـــر مالیـــه و منظـــوری رئیس جمهوری اســلامی افغانســتان تعیین می گردند.

۱۳- مادهٔ شصت وچهارم:

(۲) قراردادهـــا وموافقتنامـــه هـــای بین المللی منعقده میان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و دول خارجی یــا

موافقه ليکونه ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

**دوه يمه ماده:**

د مالياتو د چارو د ادارې د قانون په درېيمه ماده کې (۱۲ او ۱۳) اجزاء دې په لاندې ډول ايزاد شي.

**درېيمه ماده:**

۱۲- مالياتي شخړې: پر مالياتي تصميم د ماليه ورکوونکي نه قناعت کول دي چې ددې قانون له څلورم فصل سره سم تر اعتراض لاندې راځي.

۱۳- د ماليې کتمان: د ماليه ورکوونکي د هغه عمدي عمل ترسره کول دي چې په غير قانوني ډول د ماليې په نه ورکړې يا د کمې ماليې په ورکړې تمام شي.

**درېيمه ماده:**

دغه تعديل او ايزاد په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

مؤسسات بين المللی از حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مستثنی است.

**مادۀ دوم:**

اجزای (۱۲ و ۱۳) در مادۀ سوم قانون ادارۀ امور ماليات ذيلاً ايزاد گردد:

**مادۀ سوم:**

۱۲- منازعات مالياتی: عدم قناعت ماليه دهنده به تصميم مالياتی است که مطابق فصل چهارم اين قانون مورد اعتراض قرار می گيرد.

۱۳- کتمان ماليه: انجام عمل عمدی ماليه دهنده است که به صورت غير قانونی منتج به عدم ماليه يا پرداخت ماليه يا پرداخت کمترماليه می گردد.

**مادۀ سوم:**

اين تعديل و ايزاد از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می گردد.

## د ننگرهار د وادي د کرنيز شرکت د اساسنامې د ځينو مادو د تعديل د انفاذ په هکله، دافغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس

## حکم

د حکم ګڼه: (۱۲۴۴)
نېټه: ۱۳۹۷/۵/۲۴

**لومړۍ ماده:**

د ننگرهار د وادي د کرنيز شرکت د اساسنامې دځينو مادو تعديل چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۷/۵/۳ نېټې په (۷) ګڼه غونډه کې، د (۲) مادو په دننه کې، تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم د افغانستان د اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د ياد تعديل له متن سره يو ځای په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه، نافذېږي.

محمد اشرف غني
دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## حکم

## رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ تعديل برخی مواد اساسنامۀ شرکت زراعتی وادی ننگرهار

شمارۀ حکم: (۱۲۴۴)
تاريخ: ۱۳۹۷/۵/۲۴

**مادۀ اول:**

تعديل برخی مواد اساسنامۀ شرکت زراعتی وادی ننگرهار را که در جلسۀ شماره (۷) مؤرخ ۱۳۹۷/۵/۳ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان، به داخل (۲) ماده، تصويب گرديده است، منظور می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

اين حکم همراه با مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن تعديل متذکره از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی، نافذ می‌گردد.

محمد اشرف غنی
رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

## د ننگرهار د وادي د کرنیز شرکت د اساسنامې د ځینو مادو د تعدیل د طرحې په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې مصوبه

**گڼه: (۷)**
**نېټه: ۱۳۹۷/۵/۳**

د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې، د ننگرهار د وادي د کرنیز شرکت د اساسنامې د ځینو مادو د تعدیل طرحه، د ۱۳۹۷/۵/۳ نېټې (۷) گڼــه خپلــه غونډه کې د (۲) مادو په دننــه کــې تصویب کړه.

**محمد اشرف غني**
**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح تعدیل برخی مواد اساسنامهٔ شرکت زراعتی وادی ننگرهار

**شماره:(۷)**
**تاریخ: ۱۳۹۷/۵/۳**

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانســتان، طرح تعدیل برخی مــواد اساســنامهٔ شرکت زراعتی وادی ننگرهــار را در جلسهٔ شماره (۷) مؤرخ ۱۳۹۷/۵/۳ خویش به داخل (۲) ماده مورد تصویب قرار داد.

**محمد اشرف غنی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د ننګرهار د وادي د کرنيز شرکت د اساسامې د ځينو مادو تعديل

لومړۍ ماده:

د ۱۳۹۳ کال په (۱۱۵۲) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د ننګرهار د وادي د کرنيز شرکت د اساسنامې اتمه، نهمه، او اووه ويشتمه مادې دې په لاندې ډول تعديل شي:

۱- اتمه ماده:

د شرکت لومړنۍ پانګه (۵۰۰۰۰۰۰۰۰) پنځه سوه ميليونه افغانۍ ده.

۲- نهمه ماده:

(۱) د شرکت لومړني ونډه وال په ترتيب سره عبارت دي له:

۱- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (۴۵) سلنه.

۲- د ماليې وزارت (۲۵) سلنه.

۳- د صنعت او سوداګرۍ وزارت (۱۰) سلنه.

۴-د انرژۍ او اوبو وزارت (۱۰)سلنه.

۵- د اقتصاد وزارت (۱۰) سلنه.

## تعديل برخی مواد اساسنامۀ شرکت زراعتی وادی ننگرهار

مادۀ اول:

مواد هشتم، نهم و بيست و هفتم اساسنامۀ شرکت زراعتی وادی ننگرهار منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۵۲) سال ۱۳۹۳ ذيلاً تعديل گردد:

۱- مادۀ هشتم:

سرمايۀ ابتدايی شرکت مبلغ (۵۰۰۰۰۰۰۰۰) پنج‌صد ميليون افغانی می‌باشد.

۲- مادۀ نهم:

(۱) سهمداران ابتدايی شرکت بالترتيب عبارت اند از:

۱- وزارت زراعت، آبياری و مالداری (۴۵) فيصد.

۲- وزارت ماليه (۲۵) فيصد.

۳- وزارت صنعت و تجارت (۱۰) فيصد.

۴- وزارت انرژی و آب (۱۰) فيصد.

۵- وزارت اقتصاد (۱۰) فيصد.

(۲) د شرکت پانگه، د ونډه والو د عمومي مجمع له تصویب سره سم زیاتېدلای شي.

۳- اووه ویشتمه ماده:

(۱) مدیره پلاوی د شرکت د پالیسۍ د ټاکلو او د چارو د مراقبت واکمنه مرجع ده او له نهو غړو څخه جوړ شوی دی.

(۲) مدیره پلاوی جوړدی له:

۱- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

۲- د مالیې وزارت استازی د غړي په توګه.

۳- د صنعت او سوداګرۍ وزارت استازی د غړي په توګه.

۴- د انرژۍ او اوبو وزارت استازی د غړي په توګه.

۵- د اقتصاد وزارت استازی د غړي په توګه.

٦- د ننګرهار ولایت والي د غړي په توګه.

۷- د مالي چارو متخصص د غړي په توګه.

(۲) سرمایهٔ شرکت طبق تصویب مجمع عمومی سهمداران تزئید شده می‌تواند.

۳- مادهٔ بیست و هفتم:

(۱) هیئت مدیره مرجع با صلاحیت تعیین پالیسی و مراقبت امور شرکت بوده و مرکب از نه عضو می‌باشد.

(۲) هیئت مدیره متشکل است از:

۱- نمایندهٔ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری به حیث عضو.

۲- نمایندهٔ وزارت مالیه به حیث عضو.

۳- نمایندهٔ وزارت صنعت و تجارت به حیث عضو.

۴- نمایندهٔ وزارت انرژی و آب به حیث عضو.

۵- نمایندهٔ وزارت اقتصاد به حیث عضو.

٦- والی ولایت ننگرهار به حیث عضو.

۷- متخصص امور مالی به حیث عضو.

۸- د حقوقي چارو متخصص د غړي په توګه.

۹- د تخنيکي چارو متخصص د غړي په توګه.

(۳) د دې مادې د (۲) فقرې په ۷،۸ او ۹ جزونو کې درج شوي متخصصين هغه وخت د مديره پلاوي د غړي په توګه ټاکل کېدای شي چې د لاندې شرطونو لرونکي وي:

۱- د دولت کارکوونکي نه وي.

۲- ترنظر لاندې څانګه کې لږترلږه د ماسترۍ په سويه د لوړو زده کړو لرونکي وي.

۳- ترنظرلاندې څانګه کې لږترلږه لس کاله کاري تجربه ولري.

۴- له مدني حقوقو څخه محروم شوي نه وي.

۵- د نيک شهرت لرونکي وي.

٦- له شرکت سره دګټو تضاد ونلري.

(۴) ددې مادې د (۲) فقرې په ۷، ۸ او ۹ جزونو کې درج شوي متخصصين د مديره پلاوي غير اجرايي خپلواک غړي دي چې د عمومي مجمع په

۸- متخصص امور حقوقی به حیث عضو.

۹- متخصص امور تخنیکی به حیث عضو.

(۳) متخصصین مندرج اجزای ۷، ۸ و ۹ فقرهٔ (۲) این ماده زمانی به حیث عضو هیئت مدیره انتخاب شده می‌توانند که واجد شرایط ذیل باشند:

۱-کارکن دولت نباشند.

۲- حداقل دارای تحصیلات عالی به سویهٔ ماستر در رشتهٔ مورد نظر باشند.

۳- حداقل ده سال در رشتهٔ مورد نظر تجربهٔ کاری داشته باشند.

۴- از حقوق مدنی محروم نگردیده باشند.

۵- دارای شهرت نیک باشند.

٦- با شرکت تضاد منافع نداشته باشند.

(۴) متخصصین مندرج اجزای ۷، ۸ و ۹ فقرهٔ (۲) این ماده اعضای مستقل غیر اجرایی هیئت مدیره می‌باشند که به پیشنهاد مجمع عمومی و منظوری

وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ د دریو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د هغوی بیا ټاکنه یوازې د یوې بلې دورې لپاره مجاز دي.

(۵) ددې مادې د (۲) فقرې په ۷، ۸ او ۹ جزونو کې درج شوي متخصصین د حق الحضور مستحق دي چې د هغه اندازه د عمومي مجمع په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ ټاکل کېږي.

(٦) عمومي مجمع، د تخصص او تجربې په پام کې نیولو سره، د مدیره پلاوي د اجرایي غړو څخه یو تن د رئیس په توګه ټاکي. د مدیره پلاوي د رئیس په غیاب کې، د هغوی له غړو څخه یو چې د رئیس لخوا هغه ته واک تفویضېږي، د هغه دندې ترسره کوي.

(۷) د عامل پلاوي رئیس او غړي د مدیره پلاوي په غونډه کې د رأیې د حق له لرلو پرته، ګډون کوي او د عامل پلاوي رئیس د غونډې منشي دی.

رئیس جمهور برای مدت سه سال تعیین می‌گردند. تعیین مجدد آن‌ها صرف برای یک دورهٔ دیگر مجاز است.

(۵) متخصصین مندرج اجزای ۷، ۸ و ۹ فقرهٔ (۲) این ماده مستحق حق الحضور می‌باشند که اندازهٔ آن به پیشنهاد مجمع عمومی و منظوری رئیس جمهور تعیین می‌گردد.

(٦) مجمع عمومی با درنظرداشت تجربه و تخصص، یک تن از اعضای اجرایی هیئت مدیره را به حیث رئیس، تعیین می‌نماید. در غیاب رئیس هیئت مدیره، یکی از اعضای آن که از طرف رئیس به وی صلاحیت تفویض می‌گردد، وظایف او را انجام می‌دهد.

(۷) رئیس و اعضای هیئت عامل در جلسات هیئت مدیره بدون داشتن حق رأی، اشتراک نموده و رئیس هیئت عامل منشی جلسه می‌باشد.

**دوه یمه ماده:**

**دغه تعدیل په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.**

**مادهٔ دوم:**

**این تعدیل از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می‌گردد.**

## د مخابراتي خدمتونو د تنظيم د قانون په ځينو مادوکې د تعديل او ايزاد د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس

## فرمان

ګڼه: (۳۰۲)

نېټه: ۱۳۹۷/٦/۳

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د ١٦ جزء د حکم له مخې، د مخابراتي خدمتونو د تنظيم د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايـزاد چـې د ملـي شـوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ۱۳۹٦/۱۰/۴ نېټې (۲۹۳) ګڼې مصوبې پر بنسټ فيصله شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري د مجلسينو له مصـوبو او د نوموړو مادو د تعديل او ايزاد له مـتن سره يو ځای دې په رسمي جريده کـې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## فرمان

## رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تنظیم خدمات مخابراتی

شماره: (۳۰۲)

تاریخ: ۱۳۹۷/٦/۳

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم جزء ١٦ مـادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قـانون تنظـیم خـدمات مخابراتی را که به اساس مصوبۀ شـماره (۲۹۳) مـؤرخ ۱۳۹٦/۱۰/۴ هیئـت مختلط مجلسین شورای ملـی فیصـله گردیده است، توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمـان از تـاریخ توشـیح نافـذ و همـراه بـا مصـوبات مجلسـین شورای ملی و متن تعدیل و ایزاد مـواد متـذکره، در جریـدۀ رسـمی نشـر گردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

د مخابراتي خدمتونو د تنظيم

د قانون د ځينو مادو

د تعديل او ايزاد په هکله

د ملي شوري د مجلسينو

د ګډ هيئت

پريکړه

ګڼه: (۲۹۳)

نېټه: ۱۳۹٦/۱۰/۴

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې د حکم له مخې، د ملي شـوري د دواړو جرګو له شپږو، شپږو غړيو څخه جـوړ شوي ګډ هيئت د مخـابراتي خـدمتونو د تنظيم د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد په هکله د افغانستان د جمهور رئيس د ۱۳۹۵/۱۲/۱۴ نېټــې (۲۵۳) ګڼــه تقنيني فرمـان د ۱۳۹٦/۱۰/۴ نېټــې د دوشنبې ورځې په غونډه کې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

لطف الله "بابا"

د ګډ هيئت مرستيال

موسی خان "نصرت"

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فیصله

هیئت مختلط مجلسین

شورای ملی در مورد

تعدیل و ایزاد در برخی

از مواد قانون تنظیم خدمات

مخابراتی

شماره: (۲۹۳)

تاریخ: ۱۳۹٦/۱۰/۴

به تأسی از حکم مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب شش، شش نفر از اعضای هر جرگه فرمان تقنینی شـماره (۲۵۳) مؤرخ ۱۳۹۵/۱۲/۱۴ رئیس جمهور در رابطه به تعدیل و ایزاد در برخی مـواد قانون تنظیم خدمات مخابراتی را در جلسۀ روز دوشنبه مؤرخ ۱۳۹٦/۱۰/۴ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

لطف الله "بابا"

معاون هیئت مختلط

موسی خان "نصرت"

## دمخابراتي خدمتونو دتنظيم دقانون دځينو مادوتعديل اوايزاد

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۸۹ کال په (۱۰۳۱) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د مخابراتي خدمتونو د تنظيم د قانون د درېيمې مادې ۲۱ جزء، څلورمه او پنځمه ماده دې په لاندې ډول تعديل شي:

**۱- درېيمه ماده:**

۲۱- د مخابراتو د خدمتونو پرمختيايي بودجه: هغه وجه ده چې د آپريټرانو (د مخابراتي خدمتونو د وړاندې کوونکو) له خوا د مخابراتو د سکتور د پرمختيا، په کليوالي سيمو کې مخابراتي او انټرنيټي خدمتونو ته د سراسري لاسرسي د برابرولو او د ادارې د ښه کولو، لاډېرې پرمختيا او تجهيز د لګښتونو د تمويلولو، د تعليمي او روغتيايي مرکزونو د ځواکمنولو، د تکنالوژۍ د ابتکار او نوښت د ترويجولو، بين المللي حق‌العضويتونو، د مخابراتو د سکتور اړوند په ملي او

## تعديل و ايزاد برخی از مواد قانون تنظيم خدمات مخابراتی

**مادۀ اول:**

جزء ۲۱ مادۀ سوم، مواد چهارم و پنجم قانون تنظيم خدمات مخابراتی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۰۳۱) سال ۱۳۸۹ ذيلاً تعديل گردد:

**۱- مادۀ سوم:**

۲۱- بودجۀ انکشاف خدمات مخابرات: وجهی است که ازطرف آپريتران (عرضه کنندگان خدمات مخابراتی) به منظورانکشاف سکتور مخابرات، فراهم نمودن دسترسی سراسری به خدمات مخابراتی و انترنيتی درمناطق روستائی وتمويل مصارفات بهبود بخشيدن، انکشاف مزيد و تجهيز اداره، تقويه مراکز تعليمی و صحی، ترويج ابتکار و نوآوری تکنالوژی، حق العضويت های بين المللی، انکشاف تحقيقات و برنامه‌های مسلکی و علمی در سطح

بین المللي کچه د مسلکي او علمي څېړنو او برنامو د پرمختیا او د بېړنیو حالاتو اړوند ادارو ته د مخابراتي او انترنیتي خدمتونو د زیربناوو او زیربنایي آسانتیاوو د چمتو کولو او د مخابراتو د سکتور اړوندو ملي برنامو د تمویلولو په منظور ورکول کېږي.

**۲- څلورمه ماده:**

(۱) د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره تر ټولو لوړه دولتي مرجع ده چې د قانون د حکمونو په حدودو کې، د هېواد په کچه، د مخابراتي سکتور فعالیتونه په خپلواکه، مسؤولانه او بې پلوه ډول د په پرانستي، رڼو، موخه لرونکو او له تبعیض پرته تگلارو، تنظیموي.

(۲) د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره د خپلواک تشکیل او بودجې لرونکې ده او د دولت یو غیر بودجوي واحد دی.

د مخابراتي خدمتونود تنظیم اداره لدې وروسته پدې قانون کې د ادارې په نوم

ملی و بین المللی مربوط به سکتور مخابرات و فراهم آوری زیربناها و تسهیلات زیر بنای مخابراتی و خدمات انترنیتی به ادارات مربوط به حالات اضطرار و تمویل برنامه‌های ملی مربوط به سکتور مخابرات تأدیه می‌شود.

**۲- مادۀ چهارم:**

(۱) ادارۀ تنظیم خدمات مخابراتی عالی ترین مرجع دولتی است که فعالیت های سکتور مخابرات را طور مستقلانه، مسؤولانه و بیطرفانه با روش باز، شفاف، هدفمند و بدون تبعیض در حدود احکام قانون در سطح کشور تنظیم می نماید.

(۲) ادارۀ تنظیم خدمات مخابراتی دارای تشکیل و بودجه مستقل ویک واحد غیر بودجوی دولت می باشد.

ادارۀ تنظیم خدمات مخابراتی در این قانون منبعد به نام اداره یاد

يادېږي.

(۳) ددې مادې په (۵) فقره کې د درج شوو مواردو د اړوندو چارو د تنظيم په منظور، عالي شورې د تصميم نيونې تر ټولو د لوړې مرجع په توګه ده او په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱- د ادارې رئيس د رئيس په توګه.

۲- د ادارې تخنيکي مرستيال د مرستيال په توګه.

۳- د عدليې وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۴- د ماليې وزارت واکمن استازی د غړي په توګه.

۵- د تخنيکي چارو له متخصصينو څخه درې غړي د غړو په توګه چې د ادارې د رئيس په وړانديز او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس په منظورۍ د (۳) کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

(۴) د عالي شورې عادي غونډې د کال د هر ربع په آخر کې دايرېږي او د هغو فوق العاده غونډې د ادارې د رئيس په تصميم يا د غړو د اکثريت

می شود.

(۳) به منظور تنظيم امورمربوط به موارد مندرج فقرۀ (۵) اين ماده، شورای عالی منحيث عاليترين مرجع تصميم گيری بوده و به ترکيب ذيل ايجاد می گردد:

۱- رئيس اداره به حيث رئيس.

۲- معاون تخنيکی اداره به حيث معاون.

۳- نمايندۀ با صلاحيت وزارت عدليه به حيث عضو.

۴- نمايندۀ با صلاحيت وزارت ماليه به حيث عضو.

۵- سه عضو از متخصصين در امور تخنيکی، بحيث اعضاء که به پيشنهاد رئيس اداره و منظوری رئيس جمهوری اسلامی افغانستان برای مدت (۳) سال تعيين می‌گردند.

(۴) جلسات عادی شورای عالی در اخير هر ربع سال داير و جلسات فوق العاده آن به تصميم رئيس اداره يا تقاضای اکثريت

په غوښتنه او یا د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس په حکم دایرېدای شي.

(۵) عالي شوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د مخابراتي خدمتونو د موبایل فعالیت د جوازونو صادرول، تجدید، تعلیق، لغو او تمدیدول او د هغو نورې اړوندې چارې.

۲- د پرمختیایي پروژو او د مخابراتو د پرمختیا صندوق د لګښتونو منظوري.

۳- د اداري د بانکي حساب او د هغه اړوند چارو په هکله د تصمیم نیول.

۴- د قانون له حکمونو سره سم د اداري د ودانیو او نورو منقولو او غیر منقولو املاکو د پېرلو، ودانولو او پلورلو په هکله د تصمیم نیول.

۵- د کورنیو فعالیتونو د کړنلارې سره سم په استثنایي مواردو کې د بورد د تصمیم تأیید یا تجدید نظر.

(٦) عالي شوري د اړتیا په وخت کې کولای شي، خپل ځینې واکونه او دندې بورد ته تفویض کړي.

اعضاء و یا حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان دایر شده می تواند.

(۵) شورای عالی دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- صدور، تجدید، تعلیق، لغو و تمدید جواز های فعالیت موبایل خدمات مخابراتی و سایر امور مربوط به آن.

۲- منظوری پروژه های انکشافی و مصارفات صندوق انکشاف مخابرات.

۳- اتخاذ تصمیم در مورد حسابات بانکی اداره و امور مربوط به آن.

۴- اتخاذ تصمیم در مورد خریداری، اعمار و فروش ساختمان ها و سایر املاک منقول و غیر منقول اداره مطابق احکام قانون.

۵- تائید یا تجدید نظر بالای تصامیم بورد در موارد استثنایی مطابق طرزالعمل فعالیت‌های داخلی.

(٦) شورای عالی در صورت ضرورت می‌تواند، برخی از صلاحیت‌ها و وظایف خویش‌را به بورد تفویض نماید.

(۷) عالي شوري مکلفه ده، د مخابراتي خدمتونو د موبایل فعالیت د جوازونو د صادرولو، تجدید، ځنډولو، لغو او تمدید په اړوند نیول شوي تصمیمونه، د تصویب لپاره، اقتصادي عالي شوري ته وړاندې کړي.

(۸) د عالي شوري د غړو د غړیتوب، حق الحضور، د صلاحیت د سلبېدو، لېرې کولو او استعفاء شرطونه، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

(۹) د ادارې کلنی تشکیل او بودجه د بورد له خوا برابرېږي او د عالي شوري له خوا منظورېږي.

(۱۰) د ادارې بودجه د هغو اداري فیسونو له لارې چې پر آپریترانو (د مخابراتي خدمتونو دعرضه کوونکو) باندې وضع کېږي، تمویلېږي.

(۱۱) اداره د ادارې او پرمختیایي پروژو، د ادارې د مخابراتو پرمختیایي صندوق د لګښتونو د تمویل په منظور د اداري فیسونو د راټولولو لپاره، خپلواک بانکي حسابونه پرانیزي.

(۷) شورای عالی مکلف است، تصامیم اتخاذ شده مبنی بر صدور، تجدید، تعلیق، لغو و تمدید جواز های فعالیت موبایل خدمات مخابراتی را جهت تصویب به شورای عالی اقتصادی ارایه نماید.

(۸) شرایط عضویت، حق الحضور، سلب صلاحیت، سبکدوشی و استعفای اعضای شورای عالی در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۹) تشکیل و بودجهٔ سالانهٔ اداره از جانب بورد ترتیب و ازطرف شورای عالی منظور می گردد.

(۱۰) بودجه اداره از طریق فیس‌های اداری که بالای اپریتران (عرضه کنندگان خدمات مخابراتی) وضع می‌گردد، تمویل می شود.

(۱۱) اداره جهت جمع آوری فیس‌های اداری، به منظور تمویل مصارف اداره و پروژه های انکشافی صندوق انکشاف مخابرات اداره، حسابات مستقل بانکی را افتتاح می نماید.

۳- پنځمه ماده:

(۱) د اداري د رهبرۍ او د هغه د اړوندو چارو د تنظیم په منظور، د مخابراتي خدمتونو د تنظیم بورد په لاندې ترکیب سره رامنځته کېږي:

۱- د اداري رئیس د رئیس په توګه.

۲- د اداري تخنیکي مرستیال د مرستیال په توګه.

۳- د اداري اداري او مالي مرستیال د غړي په توګه.

۴- د اړوندې برخې دوه تنه متخصصین د غړو په توګه.

(۲) د بورد رئیس د اداري د استراتیژۍ د تطبیق مسؤول دی، تخنیکي مرستیال د مخابراتو د سکتور او اداري د عملیاتو د اړوندو چارو د اجراآتو مسؤول او اداري او مالي مرستیال د اړوندې برخې مسؤول دي.

(۳) د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس لخوا هغه شخص د بورد د رئیس په توګه ټاکل کېدای شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۳- مادۀ پنجم:

(۱) به منظور رهبری اداره و تنظیم امور مربوط به آن؛ بورد تنظیم خدمات مخابراتی به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- رئیس اداره به حیث رئیس.

۲- معاون تخنیکی اداره به حیث معاون.

۳- معاون اداری و مالی اداره به حیث عضو.

۴- دو نفر متخصصین بخش مربوط به حیث اعضاء.

(۲) رئیس بورد مسؤول تطبیق استراتیژی اداره بوده، معاون تخنیکی مسؤول اجراآت امورمربوط عملیات سکتور مخابرات و اداره و معاون اداری و مالی مسؤول بخش مربوط می باشند.

(۳) شخص به حیث رئیس بورد از طرف رئیس جمهوری اسلامی افغانستان تعیین شده می تواند که دارای شرایط ذیل باشد:

۱- د افغانستان تابعیت ولري.
۲- د سیاسي ګوندونو غړیتوب ونلري.
۳- نیک شهرت ولري.
۴- لږ تر لږه د ماسترۍ تحصیلي سند ولري.
۵- لږ تر لږه لس کاله کاري تجربه ولري.
٦- د جنایت یا اداري فساد په جرم محکوم شوی نه وي.
۷- د دندې د تصدۍ په وخت کې د مدیره هیئت یا د عامل هیئت او یا د مخابراتي شرکتونو د نظار هیئت غړیتوب ونلري.
(۴) هغه اشخاص د ادارې مرستیالانو او د بورد د غړو په توګه ټاکل کېدای شي چې ددې مادې د (۳) فقرې په (۱، ۲، ۳، ٦ او ۷) جزونو کې د درج شوو شرایطو په درلودلو سربېره، لږ تر لږه د لېسانس دتحصیلي سند او په اړونده رشته کې پنځه کاله کاري تجربه ولري.
(۵) د ادارې رئیس او تخنیکي مرستیال

۱- تابعیت افغانستان را داشته باشد.
۲- عضویت احزاب سیاسی را نداشته باشد.
۳- شهرت نیک داشته باشد.
۴- حد اقل سند تحصیلی ماستری را داشته باشد.
۵- حد اقل ده سال تجربه کاری داشته باشد.
٦- به جرم جنایت یا فساد اداری محکوم نشده باشد.
۷- عضویت هیئت مدیره یا هیئت عامل و یا هیئت نظار شرکت های مخابراتی را حین تصدی وظیفه نداشته باشد.
(۴) اشخاصی به حیث معاونان اداره و اعضای بورد تعیین شده می توانند که علاوه به داشتن شرایط مندرج اجزای (۱، ۲، ۳ ، ٦ و ۷) فقرهٔ (۳) این ماده، حداقل سند تحصیلی لیسانس و تجربه کاری پنج ساله را در رشته مربوط داشته باشند.
(۵) رئیس و معاون تخنیکی اداره برای

د پنځو کلونو لپاره او اداري او مالي مرستیال او د بورد دوه غړي د درې کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي او د هغو د خدمت دوره د یو ځل لپاره د تمدید وړ ده.

(۶) د بورد مرستیالان او غړي د ادارې د رئیس په وړاندیز او د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس په منظورۍ ټاکل کېږي.

(۷) د بورد د رئیس، مرستیالانو اوغړو او د ادارې د کارکوونکو حقوق او امتیازونه له هغې کړنلارې سره سم چې داقتصادي عالي شوري لهخوا تصویبېږي، تنظیمېږي.

(۸) د بورد رئیس، مرستیالان او غړي د خدمت د دورې له بشپړېدو وروسته تر دوو کلونو پورې نشي کولای په مخابراتي شرکتونو کې دنده ترسره کړي.

**دوه یمه ماده:**

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم د قانون د شپږمې مادې ۳۶ جزء تعدیل، په

مدت پنج سال ومعاون اداری ومالی و دو عضو بورد برای مدت سه سال تعیین می گردند و دورهٔ خدمت آنها برای یک بار قابل تمدید می‌باشد.

(۶) معاونان و اعضای بورد به پیشنهاد رئیس اداره و منظوری رئیس جمهوری اسلامی افغانستان تعین می‌گردند.

(۷) حقوق و امتیازات رئیس، معاونان و اعضای بورد و کارکنان اداره مطابق طرزالعملی که از طرف شورای عالی و اقتصادی تصویب می شود، تنظیم می گردد.

(۸) رئیس، معاونان و اعضای بورد بعد از تکمیل دورهٔ خدمت الی دو سال نمی توانند در شرکت های مخابراتی ایفای وظیفه نمایند.

**مادهٔ دوم:**

جزء ۳۶ مادهٔ ششم قانون تنظیم خدمات مخابراتی تعدیل، جزء ۳۷در

هغې کې ۳۷ جزء ايزاد او ۳۷ جزء دې په ۳۸ جزء تصحيح شي.

**شپږمه ماده:**

۳۶- اقتصادي عالي شوري او د ضرورت په وخت کې د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس ته د ربعوار رپوټ وړاندې کول.

۳۷- د (ITU ) د بين المللي مخابراتو په اتحاديې او د(APT) ايشيا پسفيک دمخابراتو ټولنې او دمخابراتي اتحاديو په ټولنو کې له افغانستان څخه استازيتوب.

**درېيمه ماده:**

د مخابراتي خدمتونو د تنظيم د قانون د شپږمې مادې متن د(۱) فقرې په توګه او په هغې کې (۲، ۳ او ۴) فقره دې په لاندې توګه ايزاد شي:

(۲) د ادارې د مالي چارو پلټنه په کلني ډول د قانون له حکمونو سره سم صورت مومي او د روڼتيا(شفافيت) او حساب ورکونې د تأمين په منظور د بهرنيو خپلواکو بازرسانو په واسطه

آن ايزاد و جزء ۳۷ به جزء ۳۸ تصحيح گردد.

**مادۀ ششم:**

۳۶- ارايۀ گزارش ربعوار به شورای عالی و اقتصادی و عندالضرورت به رئيس جمهوری اسلامی افغانستان.

۳۷- نمايندگی از افغانستان در اتحاديۀ مخابرات بين المللی (ITU) و جامعه مخابرات ايشيا پسفيک (APT) و اتحاديۀ های مخابراتی.

**مادۀ سوم:**

متن مادۀ ششم قانون تنظيم خدمات مخابراتی به حيث فقرۀ (۱) و فقره های (۲، ۳ و ۴) در آن ذيلاً ايزاد گردد:

(۲) تفتيش امور مالی اداره سالانه مطابق احکام قانون صورت می گيرد و به منظور تأمين شفافيت و حساب دهی توسط بازرسان مستقل خارجی نيز تفتيش

هم پلټل کېږي.

(۳) د ادارې تخنيکي چارې په هـــرو دوو کلونو کې د هغه فني او مســـلکي هيئت په واسطه چې د عـــالي شـــوري لخوا ټاکل کېږي، بررسي کېږي.

(۴) دولتي ادارات نشـــي کـــولای، د ادارې په مسلکي او اداري چارو کې مداخله وکړي، د ملي شوري نظـــارتي صلاحيت خوندي دي.

**څلورمه ماده:**

دغه‌تعديل او ايزاد دتوشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې‌دې خپـــور شي او په نافذېدو سره يې د (۱۳۹٦) کال په (۱۲۵۹) ګڼه رسمي‌جريده کې خپور شوی دمخابراتي خدمتونو د تنظيم د قانون په ځينو مادو کې تعديل او ايزاد ملغي کېږي.

می‌گردد.

(۳) امور تخنیکی اداره در هر دو سال توسط هیئت فنی و مسلکی که توسط شورای عالی تعیین می گردد، بررسی می‌شود.

(۴) ادارات دولتی نمی توانند در امور مســـلکی و اداری، اداره مداخلــــه نمایند، صلاحیت نظارتی شورای ملی محفوظ است.

**مادهٔ چهارم:**

این تعدیل و ایزاد از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و در جریـــدهٔ رســـمی نشـــر گردد و با انفاذ آن تعدیل و ایزاد برخی از مـــواد قـــانون تنظـــیم خـــدمات مخابراتی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۲۵۹) ســـــال ۱۳۹٦ ملغـــــی می‌گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :           (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:           (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Amendment to the Name of Ministry of Commerce and Industries**
- **Amendment to Article 22 ,Paragraph 3 of the Law on Managing Financial Affairs and Public Expenditures**
- **Amendment and Addition to Some Articles of the Law on Managing Taxation Affairs**
- **Amendment to Some Articles of Nangarhar Valley Agricultural Corporation Charter**
- **Amendment and Addition to Some Articles of the Law on Managing Communication Services**

**Date:2th October.2018**

**ISSUE NO:(1310)**